مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نسيم سليمي

۲۰۲۴/۰۳/۰۵

# د لوی احمد شاه بابا د کتابخانې ځخه غلا سوي کتابونه

## په یوه عربي هیواد کي په لیلام خرڅیږي

په هر هیواد کي د اجتماعي تغیراتو د راتګ یا د یوه لاس یا ډلي ځخه و بل لاس یا ډلي ته د قدرت د واکو د ترلاسه کېدو سره د ټولني ځیني ډلي یا ګروپونه مهاجر کیږي یا مهاجرت او د خپل ټاټوبي او وطن ځخه وتلو ته مجبوره کیږي .له دې جملې ځخه د ثور تر انقلاب وروسته یو زیات شمېر افغانان له هیواده مهاجر او له خپله وسه سره سم په بېلو بېلو هیوادو کي میشت سوه .ددغو افغانانو له جملې ځخه زموږ) سلیمي (کورنۍ هم مجبوره سوه چي له خپله پلرني ټاټوبي، کندهار، ځخه مهاجر او یو خارجي هیواد ته پناه یوسي .د هغې جملې ځخه اروابناد محمد حلیم سلیمي صاحب، مشر سلیمي صاحب، لومړی هندوستان او بیا امریکا ته ولاړئ او هلته یې، په نیویارک کي، د کوینز په بورو کي استوګنه پي پیل کړه. نوموړي، د یوه مشر او بافرهنګه نفوذ لرونکي شخص په صفت، هلته په بېشمارو اجتماعي اعمالو لاس پوري کړ، لکه د افغانستان ځخه د روسیانو د وتلو په غرض د مظاهرو او میټنګو تشکیلول، په منطقه کي د افغانانو دپاره د یوه مسجد او د افغانانو د راټولېدو، د لمونځو، فاتحو، د اختر د لمونځو د یوه مرکز جوړول او د افغانانو د ماشومانو دپاره د پښتو او دري د زده کړي دپاره د کورسو دائرول، په نیویارک کي د مهاجرینو د شورا په تشکیلولو کي د نورو افغاني مشرانو تر څنګ یو عمده رول درلودل، دیوي نشریې خپرول چي د افغانستان په باره کي خبرونه او مطالب خپاره کي. نوموړي د خپلو نورو فرهنګي چارو تر څنګ د یوي کتابخانې په تاسیس او د هغې د پاره، په خپلو مادي امکاناتو، د کتابو او نورو موادو په راټولولو لاس پوري کړ او ددې کار دپاره یې هندوستان او نورو هیوادو ته سفر وکړئ او د هغې خوا یې ډېر کتابونه راوړل .پاکستان او افغانستان ته یې ډېر سفرونه وکړل او له هغې خوا یې د خپلو شخصي کتابو په شمول بېشمېره خطي نسخې، پخواني او تازه چاپ سوي کتابونه د ځان سره یا د پوستې له لاري راوړل .د کتابخانې ټوله کتابونه دده په شخصي پیسو واخستل سول، د بېلو هیوادو ځخه راوړل سوه او په هغه کتابخانه کي ځای پر ځای کړه سول چي وروسته د " لوی احمد شاه بابا د کتابخانې "په نامه وبلل سوه،چي د افتتاح پر وخت یې نه یوازي په نیویارک کي اوسېدونکو افغانانو ګډون کړئ وو، بلکه د امریکا د نورو ایالاتو او کاناډا ځخه هم افغانانو ددغي کتابخانې د پرانیستلو په مراسمو کي کي اشتراک وکړئ .
اوس د رسنیو لاري خبریږو چي د "لوی احمدشاه بابا د کتابخانې "قلمي نسخې او نور زاړه او د تاریخي اهمیت لرونکي کتابونه، چي پر هر یوه د "د لوی احمد شاه بابا د کتابخانې "ټاپه هم پر لګېدلې ده په یوه عربي هیواد کي د لیلام په ډول په لوړه بیه، په ۱۲۰۰ ډالره لیلامیږي .دا کار نه یوازي داچي د محمد حلیم سلیمي صاحب شخصي دارایي ده، بلکه د افغانستان د لرغوني تاریخ او فرهنګ مهمه شتمني ده، چي تقریبا ۲۴ کاله د مخه پر افغانستان باندي د غربي هیوادو د نظامي تېري په دوران کي لوټ سوي او اوس چي ددوی په نظر افغانستان د پرس او پال ځوک نه لري، په عامه را میدان ته سوي او په لیلام کي خرڅیږي .
زما، نسیم سلیمي، اغلب ګمان دا دئ چي دغه د تاریخي اهمیت لرونکي اثار د تلابنیو په دوران کي، زما د اکا (تره) د کور د تلابنۍ په دوران کي غلا سوي او اوس چي یې اهمییت غلو ته هم ور معلوم سوئ دئ، لیلام ته را ایستل سوي دي .
د سلیمي صاحب د کورنۍ د یوه مشر غړي په صفت باید په زغرده ووایم چي دغه آثار د غلا مال دئ او لکه هر د غلا مال، هرهغه ځوک چي دا آثار یې لیلام ته ایښي دي، هغه کمپنۍ چي دغه آثار لیلاموي او هر هغه ځوک چي یې رانیسي، د قانون له مخي د غلا په دې عمل کي شریک او د قانون له مخي باید چلند ورسره وکړه سي .دغه آثار


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

باید ژر تر ژره ددغو غلو له لاسه وژغورل سي، اصلي مالک ته، چي زما کورنی ده، وسپارل سي او عاملین باید د قانون و منګولو ته وسپارل سي .
د ګرانو وطنوالو څخه هیله کوم چي ددغو غلو له لاسو څخه د افغانستان ددغه ارزښتناکو آثارو په خلاصولو کي مرسته وکي او هغوی د اف بي آی او انترپول له لاري د قانون منګولو ته وسپاري. دا باید د اف بي آی او انترپول وظیفه وي چي د موضوع په باره معلومات وکي چي دا آثار څه وخت، څرنګه، چیري او ولي غصب سوي، چیري وه، ددې پر ځای چي اصلي مالکانو ته په لاس ورکړه سي، ولي و لیلام ته وړاندي کیږي او د لیلام څخه لاس ته راغلي پیسي چاته او ولي ورکول کیږي؟
په دې مورد کي د معلوماتو د تبادلي او مرستي دپاره، د في الحال زما امید دئ چي افغان جرمن د پورتال چلوونکي زما ړغ تر نورو افغانانو پوري ورسوي، څو په ټولو یو مشترک عمل سرته ورسوو، او نه یوازي دغه غلا سوی مجموعه بیرته تر لاسه کو بلکه په ګډه د نورو ملي، تاریخي او فرهنګي آثارو د غلا او لوټولو مخنیوی او بیرته یي خپل و اصلي خاوند، یعني افغانستان ته اعاده کړو .
څکه چي زه په دي غلا تازه خبر سوم، د نورو معلوماتو د لاس ته راوړلو په لاره کي به کوښښ وکم .په ضمن کي امید کوم چي که نور وطنوال په دې مورد معلومات لري، یا یي تر لاسه کولای سي، یا د کومي قانوني کارروایي په باره کي څه ویل لري لطفا دي یي راسره شریک کړي، څکه چي دا یوه مهمه موضوع ده او ملي او تاریخي اهمیت لري. زه ددغي موضوع په ارتباط او ددغي واضحي غلا د ثبوت دپاره ځیني عکسونه هم لرم چي ددې لیک سره به یي خپاره کړم. په دې لاره کي مو د همکاری کولو امید او تشکر کوم .
څکه چي دا یوه ډېره تازه موضوع ده، دم درحاله به د تماس دپاره یوازي زما د تلیفون نمبر ولیکم، دوستان او علاقمندان کولای سي چي ددې لاري خپل معلومات راسره شریک کي او که د حل کومه لاره ورمعلومه وي را ویې ښوي .نورو نو ددغي او نورو ورته غلاوو د مخنیوي او ملت ته د مادي او فرهنګي دارایي د بیرته راستونولو په لاره کي ستاسي د همکارئ په هیله .

نسیم سلیمي

زما د تلیفون نمبر :
- ۸۹۴۹ -۵۸۶ -(۹۲۵)
دوستان کولای سي چي په دغه نمره، د وټس اپ، وایبر یا عادي تلیفون په واسطه زما سره تماس و نیسي .څکه چي په امریکا کي تر شخصي تلیفونو، تجارتي تلیفونه ډېر کیږي لطفا یو پیغام راته پرېږدئ، څو زه بیرته تماس درسره ونیسم .نور نو د کامیابی په هیله .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ